



## اپلاټون:

د ده اصلي نوم «اریستوکلس» دی، د یونان یو نوموتی او ستر فیلسوف، ریاضي پوه او شاعر وو. د هغه اندونه او افکار د نړۍ د فیلسوفانو په منځ کې ځانګړی ځای لري. د زېږېدنې د نېټې په اړه یې دقیق مالومات نه شته خو څېړونکي وایي چې هغه تر میلاد « ۴۲۷یا۴۲۹» کاله مخکې، د یونان په اوسني پاېتخت ( آتن) او یا هم یو بل ښار ( آېجاینه) کې زېږېدلی دی. او په (۷۴) کلنۍ کې مړ شوی دی.

اپلاطون له خپل ښوونکي سقراط او زده کوونکي ارسطو سره یو ځای درې ستر یوناني فیلسوفان دي چې د فلسفي او اخلاقي مسایلو بنسټ ایښودونکي دي. اپلاطون یو لرغونی یوناني فیلسوف او د نړۍ د لومړي عصري پوهنتون،چې د «اکاډیمي» په نامه یادېږي بنسټ ایښودونکی دی. په دغه اکادیمۍ کې اپلاتون تر مرګه پورې د ریاضیاتو او فلسفې ښوونه او تدریس کاوه. اپلاتون د اخلاقو، سیاست، ریاضیاتو، میتافزیک، منطق، جمالیات او ښکلا پېژندنې، علم پیژندنې، فلسفې، شعر او هنر په برخو کې ارزښتناک او ګټور متنونه او کتابونه لیکلي دي. د اپلاتون له مهمو او غوره اثارو څخه د «جمهور» او « میلمستیا » کتابونه ډېر نامتو دي. اپلاطون د فلسفې تر څنګ په ریاضي، منطق او اخلاقي اصولو کې هم کار کړی او خپل اندونه او لید توګي یې وړاندې کړې دي.

**دا هم د اپلاتون ګڼ شمېر ګټورې، مهمې او اغیزناکې خبرې او ویناوې:**

- که پیسې ولرې انسانان به دې وپېژني، که پیسې ونه لرې نو انسانان به وپېژنې.

- د انسان ارزښت په درې شیانو کې دی: علم، محبت او ازادي.

- ادب د لویو او سترو انسانانو تر ټولو ښکلې پایله ده.

- هغوی چې غواړي ښه ژوند وکړي باید حقیقت ته نږدې شي، ځکه چې د حقیقت موندلو وروسته، دوی د نړۍ له غمونو او اندېښنو څخه ځان ژغوري.

- د انسان چلند له دریو اصلي سرچینو څخه څرګندېږي: هیله، عاطفه او پوهه.

- د هر شي ساتونکي چې څومره زیات وي هغومره خوندي وي، خو د راز ساتونکي چې څومره زیات وي هغومره په خطر کې وي.

- دندې سر ته رسول وینښ وجدان، پوهه او آګاه زړه او باطني مینه غواړي.

- تر ټولو ښه ژوند هغه دی چې په کوچنیو شیانو قناعت وکړئ او راضي ویئ.

- یوازې نیاو(عدالت) او انصاف دی چې کولای شي خوشبختي رامنځته کړي.

- د ځمکې پر مخ او لاندې ټول معدنیات د یو فضیلت او لویوالي په اندازه ارزښت نه لري.

- هغه کسان چې په ژمنو وفا کوي، هغه تر ټولو ځواکمن او غښتلي خلک دي.

- نړۍ ته نه راتلل له ناپوهي څخه غوره ده، ځکه ناپوهي د ټولو بدبختیو مور ده.

- عام خلک شتمن خلک خوښوي، او خاص او ځانګړي خلک عالمان او پوهان خوښوي.

- هر څوک چې د نورو د نیکمرغۍ غوښتونکی وي، لرې نه ده چې خپله به یې نیکمرغي په برخه شي.

- زما په اند، یوازینی موضوع چې د انسان مغز باید اندېښمن کړي د هغه د ماشومانو راتلونکی دی او هغه باید په دې اندو فکر وي چې د خپلو ماشومانو د خوشحاله کولو لپاره څه وکړي.

- حکومت د یو فرد په څېر دی، او دنده یې د اخلاقي فضایلو په دایره کې د خلکو روزل دي، د یو چا د نیکمرغي څخه د ټولنې نیکمرغي ډېره غوره ده.

- ټولنیزه نیکمرغي په ځانګړې نیکمرغی باندې لوړه او اوچته ده.

- د آزادۍ ډیروالی به حتمن د مریتوب او غلامۍ د زیاتوالي لامل شي، که په فرد کې وي یا په حکومت کې.

- موسیقي په روح کې د غږ د نتوتلو وسیله ده، د هغهٔ د فضیلتونو د روزنې لپاره.

- موسیقي د بشري ژوند د دوام لپاره اړینه ده.

- هوښیاري په دې کې ده چې خپله خوله بنده وساتې ځکه تر څو پورې چې د ماهي خوله بنده وي نو هغه د ښکاري ښکار نه کېږي.

- هوښیار خلک خبرې کوي ځکه چې دوی د ویلو لپاره یو څه لري. ناپوهان او احمقان خبرې کوي ځکه چې دوی باید یو څه ووایي.

- پوهه او عقل د خدای تر ټولو لوی نعمت دی، وروسته له پوهې او عقل څخه خاکساري او د خپل روح او ځان برابري ده، که دغه دوه نعمته له ځواکمنتوب او شجاعت سره یو ځای شي، چې څلورم نعمت دی نو دریم نعمت یانې نیاو(عدالت) ترې جوړیږي.

- نړۍ د هوښیارانو په مرګ او د ناپوهانو او جاهلانو په ژوند اوښکې تویوي.

- هوښیار خلک تر ټولو پیاوړي او ځواکمن دي.

- تل د ښوونو، لوستلو او زده کړو په اندو فکر کې اوسه او د پوهې او علم څارل ته لومړیتوب ورکوه.

- لومړۍ او غوره بریا په خپل ځان برلاسي ده.

- بدنیته هغه انسان دی چې د خلکو کمزوري او عیبونه ښکاروي او نېکي یې پټه ساتي.

- هغه شی چې په لاس نه درځي ارمان یې مه کوه.

- د ښځې لاس د اوسپنې نه هم غښتلی او قوي دی.

- په نړۍ کې، د انسان د خوښۍ یوازینی سرچینه مینه ده.

- مینه یوازینۍ ناروغي ده چې ناروغ ترې خوند اخلي.

- د مينې په لمسولو سره هر څوک شاعر کېږي.

- دا مينه ده چې د خلکو په منځ کې سوله رامنځته کوي.

- هر انسان پوهه، عقل او شعور لري، خو له پوهې، عقل او شعوره کار اخيستل، هر څوک نه شي کولای.

- زده کړې بايد د ماشومتوب له دورې پيل او د ژوند په هر پېر او دوره کې دوام ولري.

- هيڅ څوک له زده کړو بې وسه او محتاج نه دی، لکه څنګه چې له خوړو او ساه ايستلو بې وسه او محتاج نه دی.

- په قضاوت کې بايد له درې  شيانو لرې واوسئ: هوس، کرکه، کينه او ځواک.

- تر ټولو بده دا ده، چې يو څوک د خپل ځان ستاينه کوي.

- بې عمله عالم د هغه ړانده په څېر دی چې څراغ يې لاس کې وي خو لار پرې نه ويني.

- هغه کسان چې په ژمنو وفا کوي، هغه تر ټولو ځواکمن او غښتلي خلک دي.

- موږ د زده کړې او تعليم له لارې کولی شو د ولس ويده صلاحيتونه راويښ کړو.

- ويسا (اعتبار) هغه ګرانبيه او قيمتي جوهر دی چې د  بې پروايي او غفلت په يوه کاڼي ماتېږي او له منځه ځي.

- څوک چې د نورو لپاره خير او نېکمرغي غواړي، په پای کې به خپله نېکمرغي هم تر لاسه کړي.

- يوازې نياو (عدالت)کولی شي خوښي راولي.

- هيڅکله هغه څوک مه نهيلې کوئ چې په دوامداره توګه پرمختګ کوي، مهمه نده چې دوی څومره ورو حرکت کوي.

- بې صبري، انسان له هر ډول کړاو څخه نه خوشی کوي. بلکې، دا د يو کس د ويجاړولو لپاره يو نوی درد رامينځته کوي.

- هغه څوک چې له موږ سره همغږي وي موږ ته آرامتيا راکوي او هغه څوک چې زموږ سره همغږي نه وي موږ ته پوهه راکوي.

- د ځمکې په سر ټول سره زر د يوه فضيلت په اندازه ارزښت نه لري.

- له يوناني فيلسوف اپلاتون څخه چا پوښتنه وکړه: هغه څه ډول خبره ده، چې که رښتيا او صحيح هم وي ويل يې ښه نه دي؟ وې ويل: د خپل ځان ستاينه او تعريف.

- هغه څوک چې د شتمنۍ د ترلاسه کولو په لټه کې وي، هغه وخت نه لري چې علم ترلاسه کړي.

- پوهان ناپوهان پېژني، ځکه يو وخت ناپوهان وو اما نا پوهان دوی نه پېژني، ځکه هيڅ وخت پوهان نه وو.

- د ځمکې په سر او لاندې ټول سره زر د يوې اخلاقي ښېګنې ارزښت نه لري.

- ځان تر ښه ملګري ځار کړئ.

- هغه چې د نورو ښېګڼه غواړي، خپله به يې هم لاس ته راوړي.

- تر ټولو ځواکمن خلک هغه دي، چې په خپله غصه برلاسي شي.

- نيکمرغي هغه چا ته غبرګ پرانيزي، چې د نورو د نيکمرغۍ لپاره هڅې کوي، هر څوک چې د نورو لپاره د نيکمرغۍ په لټه کې دي، هرومرو خپله به هم نيکمرغي ترلاسه کوي.

- يوازېنۍ ناروغي چې ناروغ خوند ترې اخلي مينه ده.

- بې مينې ژوند نه کېږي.

- مينه داسې بلا ده چې ټول يې غواړي.

- مينه او مييښېدل له هر چا نه شاعر جوړوي.

- په نړۍ کې، د انسان د خوښۍ يوازينۍ سرچينه مينه ده.

- مينه مه هېروئ او بې ارزښته يې مه ګڼئ.

- د انسان د سوکالۍ زړی په مينه کې دی.

- هنر د ربښتينې نړۍ تر څنګ د ايډيالي نړۍ جوړول دي.

- د انسان په اروا کې د موسيقۍ وزن و نغمه لوی اغېز لري او که سم وکارول شي د ښکلا مانا ورپېژندلای شي.

- بشر په ژوندانه کې موسيقۍ ته اړتيا لري. موسيقي د انسان د څېړنې، ځېرتيا، پوهې، حس، ليدلو، ارزونې او په پای کې د مينې ځواک پياوړی کوي. تاسې يوه شېبه اروا زما لاس ته راکړئ، زه به د موسيقۍ په مرسته شډلتوب و تياره ترې لرې کړم او بېرته به يو پوه او مېړنی سړی دروسپارم.

- د هر کار پيل، د هغې ترټولو مهمه برخه ده.

- همدا چې يو سړی له خپل بريد نه واوړي او هغه ځای ته ورسېږي چې دی يې وړ نه وي، اخلاق يې ورانېږي.

***

**په درنښت او ادبي مينه: انجنير عبدالقادر مسعود**